مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی
د ستراتېژيکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**شماره: ۱۱۰** (از ۲ الی ۸ حمل ۱۳۹۴ هـ ش)

**این نشریه مجموعۀ تحلیل رویدادهای مهم سیاسی و اقتصادی هفته‌وار است که به زبان‌های پشتو، دری، انگلیسی و عربی، توسط مرکز مطالعات استراتژیک و منطقوی تهیه و نشر می‌گردد، تا نهادهای سیاست‌گذار از آن استفاده نمایند.**

## آنچه در این شماره می‌خوانید:


- مقدمه ........ ۲

### د افغانستان-امریکا نوې دوستي؛ هیلې او اندېښنې

- د اړیکو شالید ........ ۳
- د افغانستان په بهرني سیاست کې بدلون ........ ۴
- د امریکا له سفر سره تړل شوې هیلې ........ ۵
- د سولې او جګړې په تړاو درې محوره پالیسي ........ ٦
- پر سوله او جګړه د وروستي سفر اغېزې ........ ٦

### کمیسیون اصلاح نظام انتخاباتی چه خواهد کرد؟

- ضرورت به اصلاح ........ ۸
- اصلاحات بنیادی در نظام انتخاباتی ........ ۹
- قانون اساسی و تعدیل در قانون انتخابات ........ ۱۱
- نتیجه ........ ۱۱

## مقدمه

افغان ولسمشر د یوه جګپوړي دولتي پلاوي په مشرۍ، واشنګټن ته په یوه پنځه ورځني سفر ولاړ او هلته یې له امریکایي چارواکو سره د ملاقاتونو ترڅنګ، د امریکا کانګرېس ته هم وینا وکړه. ولسمشر غني په دغه سفر کې له امریکا سره د اړیکو پر رغولو، د امریکایي سرتېرو پر ایستلو له سره غور کولو او د امریکا د مرستو په راجلبولو تمرکز درلود.

داسې برېښي، چې اشرف غني د حامد کرزي خلاف له امریکا سره د خورا نږدې اړیکو جوړولو په هڅه کې دی. خو دا چې اشرف غني له دغه سفر څخه څومره تمه درلوده او څه یې پکې ترلاسه کړل؟ او دا سفر به د سولې پر پروسې او په هېواد کې رواني جګړې څه اغېزې وښندي؟ هغه پوښتنې دي، چې د دې اوونۍ د تحلیل په تفصیل کې ځواب شوي دي.

د دې ترڅنګ امریکا ته د ولسمشر له تګ څخه وړاندې د کابینې د پاتې وزیرانو نومونه اعلان شول او همدا راز په ټاکنیزو کمیسیونونو کې د اصلاحاتو لپاره د شکریې بارکزۍ تر ریاست لاندې یو کمیسیون وټاکل شو.

د ټاکنیزو نظام سمون هغه پرېکړه وه، چې د ملي وحدت حکومت د جوړېدو پر مهال د دواړو مشرانو ترمنځ شوې وه. خو دا چې دا کمیسیون به ترکومه وتوانېږي، چې په ټاکنیزو کمیسیونونو او ټاکنیز نظام کې اصلاحات رامنځته کړي؟ ټاکنیز نظام کومو بدلونو ته اړتیا لري او په دې اړه د ټاکنو د قانون او اساسي قانون په رڼا کې د څومره بدلونونو شونتیا شته ده؟

د دې اوونۍ په تحلیل کې، پر همدغو موضوعاتو د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز، د څېړنیزي څانګې شننې لولئ:

# د افغانستان-امریکا نوې دوستي؛ هیلې او اندېښنې



افغان ولسمشر محمد اشرف غني امریکا ته په خپل سفر کې هڅه وکړه، چې له یوې خوا د دوارو هېوادونو ترمنځ له تېرو پنځو کلونو راهیسې خرابې شوې اړیکې ورغوي او له بلې خوا د عاجلو مرستو په برخه کې، له افغان دولت سره د امریکا د متحده ایالاتو همکاري راجلب کړي.

دا سفر داسې مهال ترسره کېږي، چې له یوې خوا د امریکا د بهرنیو چارو لیدلوری تر ډېره د ختیزې اروپا (یوکراین)، منځنۍ ختیځ (داعش ډلې، یمن د ایران پلوه ډلو ولکې ته لوېدل، سوریه) او د ایران د اتومي پروګرام په اړه د ایران-امریکا خبرو اترو په لور دی او له بلې خوا داسې اټکل کېږي، چې د هوا له ګرمېدو سره د طالبانو بریدونه هم زیات شي او دا به هغه څه وي، چې اشرف غني به په لومړي ځل ورسره مخامخ کېږي.

## د اړیکو شالید:

د افغانستان او امریکا ترمنځ ډیپلوماتیکې اړیکې هغه مهال ټینګې شوې، چې کله په جرمني کې هټلر واک ته ورسېد او د انګلستان لومړي وزیر "چرچېل" هټلر لوی ګواښ باله او همدا راز د دویمې نړیوالې جګړې پرمهال افغانستان د انګلیسي هند لپاره د یوې دروازې ارزښت درلود.

د دویمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره، نړۍ د یوې بلې خو سړې جګړې شاهده وه، چې پر نړیوالو چارو یې پرېکنده او ژورې اغېزې ښندلې وې. د همدغې سړې جګړې پرمهال د امریکا-افغانستان اړیکې تر ډېره د

پښتونستان د شخړې له کبله خرابې وې؛ خو بیا هم امریکا له شوروي اتحاد نه وروسته، له افغانستان سره دویم لوی مرسته کوونکی هېواد و.

د شورویانو د یرغل پرمهال امریکا له افغان ملت سره د ګډ دښمن له کبله مرستې وکړې؛ خو د شورویانو له وتلو سره دغه مرستې تم شوې، د طالبانو له راتګ سره دغو تم شویو مرستو د بندیزونو جامه واغوسته او د سپټمبر د یولسمې له پېښې سره دغه بندیزونه پر پوځي یرغل بدل شول.

کله چې په ۲۰۰۱ کال کې امریکا پر افغانستان پوځي یرغل وکړ او په افغانستان کې حامد کرزی واک ته ورسېد، د واشنګټن او کابل اړیکې ډېرې ښې وې، خو دغه اړیکې بیا په ۲۰۰۸ کال کې د اوباما له واک ته رسېدو او په ۲۰۰۹ کال کې د حامد کرزي له بیا ولسمشر کېدو سره خرابې شوې. یو لامل یې دا و چې حامد کرزی د دېموکراتانو په پرتله جمهوري غوښتونکو ته ډېر نېژدې و. بل لامل یې د کای آیډه د کتاب په استناد، د اوباما او کرزي شخصي اړیکې او پر کرزي اعتماد نه درلودل وو. همدا راز نور لاملونه یې په افغانستان کې اداري فساد، د ۲۰۰۹ کال په ولسمشریزو ټاکنو کې درغلۍ، د افغانستان ملي حاکمیت تر پښو لاندې کول، د بې ګناه وګړو شکنجه کول، بندیانول، وژل او بمبارۍ وې.

## د افغانستان په بهرني سیاست کې بدلون:

د ښاغلي کرزي د واکمنۍ په وروستي کال کې، د کابل اړیکې له واشنګټن او اسلام آباد سره ډېرې خرابې وې، کرزي په خپلې وروستۍ وینا کې هم خپل ځای ناستي ته دوه هغه هېوادونه چې کابل باید ورسره له ډېر احتیاط څخه کار واخلي، امریکا او پاکستان یاد کړل.

د دوه اړخیزو اړیکو دا خرابوالی ان له ۲۰۰۸ کال څخه سرچینه اخلي، چې کله اوباما د امریکا د ولسمشر په توګه وټاکل شو او د کرزي په حکومت یې نیوکې پیل کړې. وروسته بیا دغه نیوکې هغه مهال لازیاتې شوې، چې کله په ۲۰۰۹ کال کې د افغانستان په ولسمشریزو ټاکنو کې د درغلیو پر سر د ډاکټر عبدالله او کرزي ترمنځ اختلافات رامنځته شول او د افغانستان-پاکستان لپاره د امریکا ځانګړي استازي ریچارډ هالبروک د

افغانستان په ټاکنو کې لاسوهنې پیل کړې. کای آیده په خپل کتاب کې لیکلي، چې ریچارډ هالبروک غوښتل، د کرزي او ډاکتر عبدالله ګډ حکومت رامنځته کړي.[1]

هغه مهال د افغانستان په خارجي سیاست کې بدلون راغی او د کابل پاملرنه د هند، روسیې او چین پر لور زیاته شوه. په ۲۰۱۰، ۲۰۱۲، ۲۰۱۳، ۲۰۱۴ کلونو کې کرزي چین ته سفرونه وکړل او په ۲۰۱۱ کال کې ماسکو ته ولاړ. په ۲۰۱۳ کال کې کرزي په لویه جرګه کې له امریکا سره د امنیتي تړون لاسلیک کول رد او د افغانستان له سولې سره یې تړلي وبلل.

د ۲۰۱۴ کال په وروستیو کې چې کله اشرف غني د افغانستان ولسمشر شو، نو په ۲۴ ساعتونو کې دننه یې له امریکا سره امنیتي تړون لاسلیک کړ، ترځنګ یې پاکستان ته هم ډېر امتیازات ورکړل او په دې توګه د افغانستان خارجي سیاست کې یو ځل بیا ژور بدلونونه رامنځته شول.

په اوسني سفر کې اشرف غني ډېره هڅه وکړه، چې له امریکا سره د کابل خرابې اړیکې بېرته ورغوي، چې په خپل دغه هدف کې تر ډېره بریالی هم شو او په ټولیز ډول دا مهال کابل له دواړو (واشنګټن او اسلام آباد) سره د ښو اړیکو جوړولو په درشل کې دی.

## د امریکا له سفر سره تړل شوې هیلې:

ولسمشر اشرف غني امریکا ته په سفر کې دوه مهم اهداف په پام کې درلودل. لومړی دا چې د هېواد له بودیجې سره د امریکا مرستې راجلب کړي او دویم دا چې په پسرلي کې د طالبانو پر بریدونو برلاسی شي. اشرف غني په دغه سفر کې له امریکا وغوښتل، چې د ۲۰۱۵ کال تر پایه له ۱۰ زرو څخه زیات سرتیري په افغانستان کې وساتي او د سرتېرو ایستل هم ورو کړي.

اشرف غني په خپلو دغو دوو موخو کې تر څه حده بریالی شو، اوباما د امریکایي سرتېرو د ایستلو د ورو کولو اعلان وکړ او هم یې پرېکړه وکړه، چې د ۲۰۱۵ کال تر پایه به له ۱۰ زرو څخه زیات سرتېري په افغانستان کې

[1] د هغو لاسوهنو ځینې جزئیات د رابرټ ګېټس په کتاب 'Duty: Memoirs of a Secretary at War' کې او یو شمېر نور یې د کای آیده په کتاب کې راغلي دي.

وساتي. د امریکا د مخکېنۍ پرېکړې له مخې، د ۲۰۱۵ کال تر پایه په افغانستان کې ۵ زره امریکایي سرتېري پاتې کېدل.

د دې ترڅنګ امریکایي چارواکو ژمنه وکړه، چې دوی به له کانګرس نه وغواړي، چې د افغانستان د ۳۵۲ زره اردو لپاره د ۴ ملیارده ډالرو مرستې اجازه ترلاسه کړي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري له اشرف غني او ډاکتر عبدالله سره ژمنه وکړه، چې له اداري فساد سره د مبارزې او ښې حکومتولۍ لپاره به له افغانستان سره هر کال ۸۰۰ ملیون ډالره مرسته کوي.

## د سولې او جګړې په تړاو درې محوره پالیسي:

که تېرو ۱۴ کلونو ته ځیر شو، هر کال د هوا له ګرمېدو سره په افغانستان کې د طالبانو بریدونه زیاتېږي او دا به لومړی ځل وي، چې اشرف غني به له داسې یوه وضعیت سره مخ کېږي. له همدې امله دا مهال کابل د طالبانو پرخلاف د جګړې او سولې په تړاو درې محوره پالیسي غوره کړې ده:

**۱.** په لومړي ګام کې یې له طالبانو سره د خبرو اترو لاره پرانیسته.

**۲.** په دویم ګام کې یې پر جګړه هم زور واچاوه او په هلمند او ځینې نورو مهمو سیمو کې یې د دوی پرخلاف عملیات ګړندي کړل، ترڅو حکومت د طالبانو پر راروانو پسرلنیو عملیاتو مخکې له مخکې برلاسی شي او د دوی زور وار له مخه مات کړي.

**۳.** په درېیم قدم کې د سیمې د هېوادونو له لارې هڅه کوي، چې نه یوازې پر طالبانو فشار وارد کړي، بلکې پاکستان هم تر فشار لاندې ونیسي، ترڅو طالبان چمتو کړي، چې له افغان حکومت سره خبرو اترو ته حاضر شي.

## پر سوله او جګړه د وروستي سفر اغېزې:

د سولې ټینګښت دا مهال د افغانستان د ملي ګټو په سر کې ځای لري؛ مګر دا هم منل شوی حقیقت دی، چې سوله د دولت د وسله والو مخالفینو پر ځپلو او د جګړې د لاملونو په زیاتولو سره نه شي ټینګېدای.

وروستي سفر که له امنيتي پلوه اشرف غني ډاډمن کړ؛ نو په بل اړخ کې به د سولې پروسې او له طالبانو سره د خبرو اترو په اړه شته خنډونه لازيات کړل. د دولت وسله وال مخالفين چې په تېرو ۱۴ کلونو کې د افغان دولت او نړيوالې ټولنې له ټول پوځي ځواک سره ونه ځپل شول؛ نو اوس هم دا کار ناشونی برېښي او لږترلږه لږ پرتې سيمې به په راتلونکو کلونو کې هم د وسله والو مخالفينو په ولکه کې وي.

که له يوې خوا له امريکا سره ښې اړيکې ساتل او له افغانستان‌سر ه د دوی اقتصادي مرستې د افغان حکومت د فعال بهرني سياست ښودنه کوي؛ خو له بلې خوا د ملي وحدت حکومت له اوسنيو پاليسيو داسې ښکاري، چې د سولې په لار کې شته خنډونه په زياتېدو دي او جګړه به لاپسې وغځېږي.

د سولې په تړاو له ټولو ژمنو سره سره چې د ملي وحدت حکومت مشرانو خلکو ته ورکړې وې، د شپږو مياشتو له تېرېدو سره لاهم د سولې خبرې نه دي پيل شوې او طالبان دي ته نه دي چمتو شوي، چې له افغان حکومت سره د خبرو اترو مېز ته کېني. ځينې عوامل يې په لاندې ډول دي:

- د اشرف غني له واک ته رسېدو سره د امنيتي تړون سملاسي لاسليک کېدل؛
- په وروستي سفر کې د زياتې مودې لپاره د امريکايي سرتېرو د پاتې کېدلو غوښتنه؛
- او د سولې د ربښتينو هلو ځلو پر ځای د وسله والو مخالفينو پر ضد د عملياتو ګړندي کول او پر پوځي لاره تمرکز کول.

ولسمشر غني له امريکا څخه په مننه کې په خورا زيات افراط سره د افغانانو قرباني هم تر پښو لاندې کړې او همدا راز يې امريکا ته داسې وښودله، چې امريکا د امنيتي تړون په لاسليک کولو سره، چې افغانستان ته هېڅ امتياز نه دی پکې ورکړل شوی، له افغانستان سره ستر احسان کړی. په داسې حال کې چې همدا تړون او په لاسليک شوي ډول سره، د افغانستان د جګړې د غځېدا اصلي عامل دی.

افغان ولسمشر د سولې په برخه کې د سيمې هېوادونو ته هم پرله پسې سفرونه وکړل خو دا پاليسي هم ناکامه ښکاري او چين او پاکستان تراوسه په دې نه دي برياли شوي، چې طالبان د سولې د خبرو اترو مېز ته کېنوي. د پاکستان د لوی درستيز هغه ژمنه هم، چې د مارچ مياشتې په منځ کې به طالبان د کابل له حکومت سره خبرو ته چمتو کړي، د ماتېدو پر لور روانه ده. د دې ترڅنګ کومې خبرې چې طالبانو له چين سره کړې، د طالبانو په وينا يوازې چين له خپل دريځ څخه خبرول وو.

# کمیسیون اصلاح نظام انتخاباتی چه خواهد کرد؟




بر بنیاد توافق‌نامۀ حکومت وحدت ملی میان داکتر اشرف غنی و داکتر عبدالله و پس از مدتها تاخیر، سرانجام رئیس جمهور غنی طی فرمانی، کمیسیون اصلاح  نظام انتخاباتی را به میان آورد.

در توافق‌نامۀ حکومت وحدت ملی در مورد اصلاح نظام انتخاباتی چنین آمده است:

"رئیس جمهور با در نظر گرفتن مادۀ ۱ چهارچوب سیاسی، توافق نموده بود که بلافاصله پس از تاسیس حکومت وحدت ملی، کمیسیون خاصی را با هدف اصلاح نظام انتخاباتی افغانستان، طی یک فرمان ایجاد می‌کند.

اعضای کمیسیون خاص با توافق رئیس جمهور و رئیس اجرائی تعیین می‌گردند و کابینه پیشنهادات این کمیسیون را بررسی نموده و اقدامات لازم را برای تطبیق آن روی دست می‌گیرد. لازم به ذکر است که تطبیق اصلاحات انتخاباتی باید قبل از برگزاری انتخابات پارلمانی ۱۳۹۴ صورت بگیرد."

## ضرورت به اصلاح:

در جریان انتخابات ریاست جمهوری اخیر، کمیسیون انتخابات به تقلب گسترده متهم گردید و اختلافات میان نامزدان ریاست جمهوری چنان بالا گرفت که جامعۀ جهانی مجبور به مداخله شد و حتی بازشماری صد درصد آرا نیز نتوانست گره‌گشای این مشکل باشد. در قرارداد سیاسی حکومت وحدت ملی، توافق شد تا نظام انتخاباتی افغانستان اصلاح شود.

قبلا اتحادیهٔ اروپا که افغانستان را در برگزاری انتخابات کمک مالی می‌کند از مقام‌های حکومت افغانستان خواسته تا عاملان تقلب در انتخابات را شناسایی و نحوهٔ برگزاری انتخابات را در افغانستان تغییر دهند.

همچنان فرانز میشل ملبین، نمایندهٔ اتحادیهٔ اروپا در افغانستان گفته بود که بدون اصلاح نظام و نهادهای انتخاباتی برگزاری انتخابات پارلمانی سال آینده در افغانستان را، نمی‌توان حتی تصور کرد.

آقای ملبین گفته بود که در صورت عدم تحقق این اصلاحات، اتحادیهٔ اروپا انتخابات آیندهٔ افغانستان را، حمایت مالی و نظارت نخواهد کرد.

نگرانی جامعهٔ جهانی و نیز مردم افغانستان از انتخاباتی که توسط همین کمیسیون و در چهارچوب همین نظام انتخاباتی صورت گیرد قابل درک است و سرانجام رئیس جمهور طی فرمانی، تشکیل این کمیسیون را اعلام نمود که در آن آمده است:

"محمد اشرف غنی، رئیس جمهوری افغانستان برای ایجاد اصلاحات بنیادی در نظام انتخاباتی، تقویت نظام مردمی، اعادهٔ اعتماد مردم به نهادهای دولتی، حاکمیت قانون و جلوگیری از تخلفات انتخاباتی، در یک فرمان ایجاد کمیسیون ویژهٔ اصلاحات انتخاباتی را تحت ریاست شکریه بارکزی اعلام می‌دارد."

اما این اصلاحات در کدام بخش‌ها خواهد بود؟ تغییر مسؤولین کمیسیون‌های انتخاباتی، تغییر نظام انتخابات یا هر دو؟

## اصلاحات بنیادی در نظام انتخاباتی:

نظام انتخاباتی افغانستان بر بنیاد رای واحد غیرقابل انتقال، استوار است. این سیستم موجب گردیده تا احزاب سیاسی در کشور رشد ننماید.

در بحث روی پیش نویس قانون اساسی افغانستان نیز موضوع نظام سیاسی در کشور موضوع محوری و مورد اختلاف بود. گروهی طرفدار نظام پارلمانی در افغانستان بودند که به احزاب سیاسی میدان عمل می‌داد، اما تعدادی هم روی نظام ریاستی پافشاری نمودند که سخن آنان به کرسی نشست. نظام انتخاباتی افغانستان نیز بر همین باور اساس نهاده شد.

سیستم انتخاباتی رای واحد غیرقابل انتقال، در ظاهر ساده است که هر رای دهنده رای خود را به صندوق یک کاندید می‌ریزد، اما از نظر تبعات خویش یک نظام به شدت پیچیده و مغلق است که جدی ترین تاثیر آن ممانعت از رشد احزاب سیاسی است.

نظام انتخاباتی رای واحد غیرقابل انتقال، برای افغانستان به دلایل سیاسی تجویز گردید. بعد از سقوط طالبان در افغانستان به غیر از احزاب جهادی حزب دیگری که بتواند با این احزاب همطراز به شمار آید وجود نداشت. اگر نظام انتخاباتی بر بنیاد احزاب سیاسی شکل می‌گرفت، با توجه به سابقه و امکانات احزاب جهادی، همین احزاب برندۀ انتخابات می‌شدند.

بنابراین جامعۀ جهانی تصمیم گرفت تا برای ممانعت از دوام قدرت احزاب جهادی، سیستم انتخابات را بر بنیاد رای واحد غیرقابل انتقال، شکل دهد؛ اما در عین زمان تلاش نمود تا احزاب جدیدی را در عرصۀ سیاسی افغانستان بنیاد نهد. از سال ۲۰۰۱ به بعد، به کمک جامعۀ جهانی صدها حزب سیاسی با شرایط سهل در وزارت عدلیۀ افغانستان ثبت نام کردند، اما هیچکدام موفق به جلب حمایت نسبی مردم نیز نشدند. چند سال بعد تلاش شد تا ده‌ها حزب سیاسی با هم مدغم گردند، اما نتیجۀ این ادغام نیز حزب قدرتمندی نبود.

از آن به بعد، جامعۀ جهانی تاکید بر نظام انتخاباتی افغانستان نداشت و در نتیجه یکی از مشخصات نظام دیموکراتیک که حضور احزاب در صحنۀ سیاسی کشور است، تحقق نیافت.

اگر واقعا قصد این باشد تا نظام انتخاباتی کشور دستخوش تغییری بنیادی گردد، باید این نظام از بنیاد تغییر نماید اما با توجه به این حقیقت که اکثر اعضای کمیسیون تازه به میان آمدۀ اصلاحات در نظام انتخابات، به شمول رئیس و معاونش مخالف احزاب جهادی اند، گمان نمی‌رود که تغییر بنیادی در این عرصه به میان آورند و شاید آنرا به زمان بعد از تدویر لویه جرگه و تغییر در قانون اساسی موکول نمایند. این درحالیست که در فرمان رئیس جمهور در مورد تشکیل کمیسیون اصلاحات انتخاباتی آمده است:

"آوردن اصلاحات در نظام انتخاباتی افغانستان جزء ضرورت‌هایی بوده که بعد از برگزاری انتخابات سال ۱۳۹۳ مردم افغانستان درک کردند که باید اصلاحات جدی و فراگیری رونما گردد".

لازم به یادآوری است که همین سیستم انتخاباتی در دوران اشغال جاپان توسط ایالات متحدۀ امریکا از بعد از جنگ دوم جهانی تا ۱۹۹۳ در این کشور نیز رایج بود پس روی دست گرفتن این سیستم در افغانستان را نیز نمی‌توان زیاد تصادفی به شمار آورد.

## قانون اساسی و تعدیل در قانون انتخابات:

مادۀ ۱۰۹ قانون اساسی می‌گوید:

"پیشنهاد تعدیل قانون انتخابات در یک سال اخیر دورۀ تقنینیه در فهرست کار شورای ملی داخل شده نمی‌تواند."

با استناد به همین مادۀ قانون اساسی، رئیس کمیسیون انتخابات می‌گوید که تعدیل در قانون انتخابات خلاف قانون اساسی است. در عین حال رئیس و اعضای این کمیسیون که در جریان انتخابات ریاست جمهوری اخیر به تقلب متهم شدند، با استناد به قانون انتخابات حاضر، به کنار رفتن از مقام‌های خویش قبل از تکمیل معیاد شش ساله نیستند، زیرا فقرۀ چهارم مادۀ هشتم قانون انتخابات می‌گوید:

"رئیس جمهور از میان بیست و هفت کاندیدای معرفی شده، ۹ تن را که حداقل دو نفر آن زن باشد به حیث اعضای کمیسیون، برای مدت شش سال تعیین می‌نماید."

## نتیجه:

در توافق‌نامۀ حکومت وحدت ملی در این مورد آمده است: "به منظور حصول اطمینان از اینکه انتخابات آیندۀ افغانستان از اعتبار کامل برخوردار است، نظام انتخاباتی "قوانین و نهادها" به تغییرات بنیادی نیاز دارد".

عده‌ای به این باور اند که اعضای کمیسیون اصلاحات انتخاباتی که از جانب رئیس جمهور تعیین شده‌اند، فاقد تجربۀ لازم در این زمینه اند و نخواهند توانست این کار مهم را با موفقیت به انجام برسانند.

این کمیسیون شاید بتواند بعضی از اصلاحات تخنیکی را در کمیسیون انتخابات پیشنهاد نماید که مهمترین آن توزیع تذکره‌های الکترونیکی است. این تذکره‌ها می‌تواند تا حدی از تقلبات انتخاباتی جلوگیری نماید، اما این کار یک پروسۀ طولانی مدت است و ایجاب می‌نماید تا انتخابات پارلمانی به تعویق افتد. اما اگر در قانون انتخابات تغییر بنیادی وارد نیاید، نمی‌توان به نتیجۀ مطلوب از انتخابات پارلمانی در سال ۲۰۱۵ اطمینان داشت.

پایان

**ارتباط با ما:**

ایمیل: info@csrskabul.com – csrskabul@gmail.com

وب سایت: www.csrskabul.com

شمارۀ تماس: 784089590 (+93)